مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

محمدنعمان دوست
۲۰۲۶/۰۱/۱۲

# اور او اوربلونکي

کله چې له شورويانو زموږ تېپي وطن پاک شو؛ نو د سولې لپاره د غوره فرصت کړکۍ پرانيستل شوه. که دې (دوه) ګاونډيو ذره صله رحمي هم درلودای، سوله راتللای شوه؛ خو د يوه ګاونډي استخباراتي مشر (جنرال حميد ګل) د جلال آباد نيولو ته لکه د لېوني سپي، لاړې وڅڅيدې او وې ويل: جلال آباد نيول راته داسې دي، لکه په تبره چاړه چې کيک غوڅ کړې!

هغه، د وخت صدراعظمه بې نظيره تشويق کړه چې له تنظيمي ډلو سره مشترک بريد ته اجازه ورکړي. داسې خونړی بريد چې شاوخوا څلور مياشتې يې دوام وکړ. په زرګونو افغانان پکې قتل شول او زموږ د نارنجو دا خوشبويه ښار په باروتو کې لولپه شوه.

دغسې ايران هم د سولې په ځای، خپلې نيابتي ډلې په جګړو بوختې وساتلې چې رواني اوبه مو پرته له حسابه استفاده کړي او وطن مو دومره کمزوری کړي چې له ځايه د پورته کېدو وس ونلري.
دا جګړه، د همدوی په مستقيم او غير مستقيم ملاتړ دومره اوږده شوه چې تاريخي کابل پکې په کنډواله بدل شو.

ملګرو!

زه هيڅ د جګړې پلوي نه يم؛ خو هغه اور ته چندان انديښمن هم نه يم چې له سره مو ليرې او داسې چيرته بليږي، چاچې کابو نيمه پيړۍ زموږ د سوزيدلو ننداره کړې ده.

زموږ خوږ وطن دې پر امنه، سوکاله او ودان وي.

زياتي هر سړی پوه شه خپل يې کار.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ